# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

9قوس _سال 1402


اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه


بلخ کې نیږدې څلوېښت کورنیو سره مرستې وشوې ---------------------------------------------------------- 1
297خانواده در ولایت لغمان از وسایل برق آفتابی مستفید شدند-------------------------------------------------- 1
سرپل کې له شپږ څلوېښتو اجباري راستنېدونکو کورنیو سره مرستې وشوې ------------------------------------- 2
بیش از 200 خانواده در ولایت کاپیسا کمک شد-------------------------------------------------------------- 3
د پاکستان څخه سلګونه افغان مهاجر وطن ته راستانه شول -------------------------------------------------- 4
بیش از 2 هزار مهاجر از ایران به کشور عودت نمودند ----------------------------------------------------- 4
جوزجان کې لسګونه کورنیو سره مرستې وشوې------------------------------------------------------------ 4
400خانواده در ولایت لغمان مساعدت شد------------------------------------------------------------- 5
بغلان کې کې سلګونه کورنیو سره مرستې وشوې ------------------------------------------------------- 5
کمیته جلب مساعدت ها در ولایت پنجشیر ایجاد شد ------------------------------------------------------ 6
فراه کې له سلو زیاتو تنو سره نغدي مرستې وشوې -------------------------------------------------- 6
کمیته ای جمع آوری کمک در ولایت میدان وردک تشکیل شد ------------------------------------------- 7
له پاکستان څخه له دوه زرو زیات افغان مهاجر هیواد ته راستانه شو -------------------------------------- 8
اروپايي اتحادیې د مهاجرو قاچاق ضد نوي قوانین تجویز کړل--------------------------------------------- 9
اکثریت آلمانیان د غبرګ تابعیت پلوي نه کوي ------------------------------------------------------- 9
»پاکستان با بدرفتاری افغان‌ها را مجبور به بازگشت می‌کند«----------------------------------------- 11
وزیر داخله ایران: امارت اسلامی شرایط بازگشت مهاجران افغان را فراهم کند---------------------------- 12

# متن کامل اخبار

## بلخ کې نېردې څلوېښت کورنیو سره مرستې وشوې

د وزارت ویب سایت



**د بلخ ولایت د مهاجرینو ریاست له پاکستان څخه ۳۸ اجباري راستنېدونکو کورنیو سره د لیندۍ په ۷ مه د خوراکي او نغدي مرستو د وېش خبر ورکړ.**
**دغه کورنۍ، چې په دې وروستیو کې په مؤقتي کمپ کې د مهاجرینو چارو ریاست له لوري سروې او د مرستو له پاره مستحقې په نښه شوې وې د بېړنیو پېښو د کمېټې په مالي مرسته ورته ۳ قلمه خوراکي توکي او ۳ زره افغانۍ ووېشل شوې.**

**د یو بل خبر له مخې، د بلخ ولایت په مرکز، شولګر او دهدادي ولسوالیو کې اجباري راستنېدونکو کورنیو د ستونزې د حل په موخه ۳۳ خیمې نصب شوې دي.**
**یادې سیمې چې له وړاندې دمهاجرینو چارو ریاست له خوا تاکل شوې وې، په شولګر ولسوالۍ کې د تولنیزو مرکزونو له پاره ۷ خیمې، د دهدادي ولسوالۍ او د مزارشریف په مرکزي سیمو کې ۲۳ خیمې او په ابو دجانه کمپ کې د کلینیک په موخه ۳ خیمې د بلخ ولایت مهاجرینو ریاست د د استازي په شتون کې د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې له لوري نصب شوې دي.**

## 297خانواده در ولایت لغمان از وسایل برق آفتابی مستفید شدند

ویب سایت وزارت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



**برای 297 خانواده بیجاشده و عودت کننده در ولایت لغمان وسایل برق آفتابی و بخاری به تاریخ 7 قوس توزیع شد.**

**برای هر خانواده یک پایه بخاری، دو تخته سولر و مبلغ 2 هزار و 650 افغانی جهت انتقال آن از جانب کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان توزیع شد.**

## سرپل کې له شپږ ځلوېښتو اجباري راستنېدونکو کورنیو سره مرستې وشوې

د وزارت ویب سایت



**د سرپل ولایت د مهاجرینو چارو آمریت د لیندۍ  په ۷ مه  له  ۴۶  اجباري راستنېدونکو  کورنیو سره چې۲۸۲ تنه کېږي د خوراکي او غیر خوراکي توکو د وېش خبر ورکړ.**
**په یادو مرستو کې ۳ تختي کمپلې او د پوښاک ژمنۍ کڅوړې د اکټېډ مؤسسې  او پخ شوي خواړه د مرستو د همغږۍ اداري په مالي مرسته د دې ولایت په مؤقتي کمپ کې ووېشل شول.**

## بیش از 200 خانواده در ولایت کاپیسا کمک شد

ویب سایت وزارت



**برای 240 خانواده عودت کننده در ولایت کاپیسا کمک نقدی و بسته پوشاک زمستانی به تاریخ 7 قوس توزیع شد.**

**خانواده های مذکور قبلاً توسط اداره امور مهاجرین شناسایی شده بودند، مبلغ 15 هزار و 300 افغانی، سه تخته کمپل و یک بسته پوشاک زمستانی مساعدت سازمان بین المللی مهاجرت را بدست آوردند.**

## د پاکستان څخه سلګونه افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

د وزارت ویب سایت

**د ننګرهار ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د لیندۍ په ۷ مه له پاکستان څخه د ۷۸۱ اجباري راستنېدونکو د راستنېدو خبر ورکړ.**
**د ننګرهار ولایت د تورخم د مهاجرینو چارو د آمر په خبره په یادو راستنېدونکو کې ۱۵۴ کورنۍ، چې ۷۸۱ تنه کېږي په جبري توګه هېواد ته راستنې شوې دي، چې د مهاجرینو چارو ادارې کې د نوملیکنې وروسته د مرستو د تر لاسه کولو په موخه د مهاجرت نړۍوال سازمان او د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې ته ور وپېژندل شول.**

## بیش از 2 هزار مهاجر از ایران به کشور عودت نمودند

ویب سایت وزارت

**2 هزار و 45 نفر افغان مهاجر به تاریخ 7 قوس طور جبری و داوطلبانه از ایران به وطن برگشته اند.**

**به گفته آمر سرحدی اسلام قلعه، از جمله افراد مذکور که شامل خانواده ها و مجردین بودند، 363 نفر آنها نیازمند و آسیب پذیر تشخیص و غرض اخذ کمک، به دفتر سازمان بین المللی مهاجرت معرفی و مواد غذایی و غیر غذایی را بدست آوردند.**

## جوزجان کې لسګونه کورنیو سره مرستې وشوې

د وزارت ویب سایت

**له پاکستان څخه ۹۱ اجباري راستنېدونکو ته  په جوزجان ولایت کې دلړم په ۳۰ مه خوراکي او غیر خوراکي توکي ووېشل شول.**
**یادې  مرستې چې یکې ۶ قلمه خوراکي او غیر خوراکي توکي شامل وو ددې ولایت په خواجه دو کوه ولسوالۍ کې د مرستو د مؤظفي کمېټې په مالي مرسته ووېشل شوې.**

## 400خانواده در ولایت لغمان مساعدت شد

ویب سایت وزارت

**برای 400 خانواده عودت کننده اجباری در ولایت لغمان مساعدت خوراکی بتاریخ 6 قوس توزیع شد.**

**خانواده های یاد شده که اخیراً از پاکستان عودت و درکمپ موقت جابجا شده اند، کمک بنیاد خیریه شفاخانه کیور را که شامل 4 قلم مواد خوراکی بود دریافت نمودند.**

## بغلان کې کې سلګونه کورنیو سره مرستې وشوې

د وزارت ویب سایت



**بغلان کې له ګاونډي هیواد څخه ۴۵۰ اجباري راستنېدونکوکورنیو سره د لیندۍ په ۶ مه نغدي مرستې وشوې.
دغه کورنۍ، چې ددې ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لورې په بېلابیلو ولسوالیو کې سروې او د مرستو لپاره مستحقې په نښه شوې د ملي تجارانو په مالي مرسته د مهاجرینو چارو ریاست ترڅارنې لاندې ۹ زره افغانۍ ووېشل شوې.**

## کمیته جلب مساعدت ها در ولایت پنجشیر ایجاد شد

ویب سایت وزارت



**آمریت امور مهاجرین ولایت پنجشیر از ایجاد کمیته جلب مساعدت در آن ولایت به تاریخ 6 قوس خبرداد.**

**کمیته یاد شده متشکل از نماینده های ادارات محلی حکومتی در آن ولایت ایجاد که ریاست آن را آمر امور مهاجرین به عهده دارد.**

**در جلسه که به همین منظور برگزار شده بود شماری از علما ، بزرگان قومی و مردم محل در قسمت جمع آوری کمک برای عودت کنندگان اجباری از پاکستان در آن ولایت وعده هر نوع همکار را سپردند.**

## فراه کې له سلو زیاتو تنو سره نغدي مرستې وشوې

د وزارت ویب سایت



**په فراه ولایت کې ۱۸۰ تنه کارګرو سره د لیندۍ په ۶ مه نعدي مرستې وشوې.**
**یاد کسان چې له وړاندې د مهاجرینو اداري سره په همغږۍ ددې ولایت په مرکزي سېمو کې د ویالو او سرکونو د پاکوالي په موخه په دنده ګومارل شوي وو، هر یوه ته د یوې میاشتې د کار په بدل کې ۱۰ زره او ۵ سوه افغانۍ د ډنمارک د مهاجرینو شورا له لورې ووېشل شوې.**

## کمیته ای جمع آوری کمک در ولایت میدان وردک تشکیل شد

ویب سایت وزارت



**کمیته ای برای جمع آوری کمک برای برگشت کننده گان اجباری از کشور پاکستان در ولایت میدان وردک به تاریخ 6 قوس تشکیل شد.**

**کمیته یاد شده بنا به دستور مقام رهبری امارت اسلامی به منظور جمع آوری کمک ها تحت ریاست والی و با اشتراک نهاد های مسئول در آن ولایت ایجاد شده است.**

**در جلسه که به همین منظور برگزار شده بود شماری از نماینده ها ی موسسات همکار، علما ، بزرگان قومی و مردم محل در قسمت جمع آوری کمک برای عودت کنندگان اجباری از پاکستان در آن ولایت وعده همکاری نمودند.**

**به گفته آمر امور مهاجرین تا کنون 26 خانواده طور جبری از پاکستان در آن ولایت برگشت و در مرکز و ولسوالی ها جابجا شده اند و تدابیری لازم جهت ارائه کمک به آنها اتخاذ شده است.**

## له پاکستان څخه له دوه زرو زیات افغان مهاجر هیواد ته راستانه شو

د وزارت ویب سایت

**۲ زره ۴۱۸ تنه افغان مهاجر د لیندي په ۶ مه دتورخم او سپین بولدک له لارې هیواد ته راستانه شوي.**

**د کندهار ولایت د سپین بولدک د مهاجرینو چارو د امر په خبره ، ۳۲۳ کورنۍ چې ۱ زرو او ۳۳۸ تنه کېږي په جبري توګه له دې لارې هیواد ته راستانه شوي.**

**سرچېنې همدا شان زیاته کړه چې راستنې شوې کورنۍ په دغه امریت کې له نوملیکنې وروسته د مرستو د ترلاسه کولو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان او د ملګرو ملتونو د کډوالو ادرې ته ور وېپژندل شوې.**

**همدارنګه یو تن بې سرپرسته ماشوم MPO مؤسسې ته وروپېژندل شو.**

د یو بل خبر له مخې  د ننګرهار ولایت د تورخم د سرحدي امریت د امر په خبره ،۲۱۰ کورنۍ چې ۱ زرو او ۸۰ تنه کېدل له دې لارې هیواد ته راستانه شول.
د تورخم د سرحدي امر په خبره راستنېدونکي د مؤظفو کمېټو له ثبت وروسته د مرستو د ترلاسه کولو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان او د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې ته ور وپېژندل شول.
د ننګرهار ولایت د تورخم د مهاجرینو چارو د آمر په خبره په یادو راستنېدونکو کې ۳۳۰ کورنۍ، چې یو زرو او ۶۸۰ تنه کېږي په جبري توګه هېواد ته راستانه شوي دي

## اروپايي اتحاديې د مهاجرو قاچاق ضد نوي قوانين تجويز کړل

مهاجرنیوز

د اروپایي اتحادیې کمیسیون د مهاجرو د قاچاق د مخنیوي په مقصد د بین المللي همکارۍ ږغ کړی دی .په دې تړاو یې د نوو قوانینو تجویز هم کړی دی.

اروپایي کمیسیون د سه شنبې په ورځ (د ۲۰۲۳ د نوامبر ۲۸ نېټه) په بروکسل کې وویل چې د مهاجرو د قاچاق د مخنیوي په مقصد په شته قوانینو کې تعدیل ته اړتیا شته. د اروپایي اتحادیې د کمیسیون د کورنیو چارو کمیسارې، یلفا یوهانسون وویل: «موږ د مهاجرو د قاچاق او د مجریمینو په لاس کې د انسانانو د لوبېدلو د مخنیوي لپاره مبارزه کې هلې ځلې زیاتوو. موږ د قاچاق وړونکو پر ضد اقدام کوو نه د قاچاق کېدونکو پر ضد«.

وړاندیز شوی دی چې د انساني قاچاق پر وخت د انسانانو د مړیني په صورت کې د قاچاق وړونکي لپاره د قید شته د ۸ کالو اندازه دې و ۱۵ کالو ته زیاته شي. د دې تر څنګ د اروپایي د غړو هیوادونو لخوا محاکمه به هم آسانه کړل شي. د مثال په توګه که یوه کښتۍ په نړیوالو اوبو کې ډوبه شي او خلک پکښې مړه شي، نو به بیا هم د مسؤلینو محکمه په اروپایي هیوادونو کې ممکنه وي.

د اروپایي اتحادیې د کمیسیون په وینا د نوو قوانینو په مرسته باید په زیاته د هغو شبکو پر ضد اقدامات وشي چې مهاجرو ته قاچاق ممکنه کوي. البته یوهانسون پر دې ټینګار وکړ چې بشري مرستې وړاندې کوونکي غیر دولتي سازمانونه چې د مثال په توګه په سمندر کې ژغورنې کوي، هغوی به نه محاکمه کیږي.

په وړاندیز کې راغلي چې د اروپایي پولیسو یوروپول امکانات زیات کړل شي. د مثال په توګه چې د چارواکو شمېر او د معلوماتو تبادله یې زیاته شي. کمیسیون د یوې نړیوالې ټلوالې د جوړولو وړاندیز هم وکړ چې د قاچاق ضد مبارزه قوي شي. دا وړاندیزونه د سه شنبې په ورځ په بروکسل کې په یو نړیوال کانفرانس کې وشول.

د اروپا پارلمان او اروپایي اتحادیې غړي هیوادونه به اوس د کمیسیون پر یادو وړاندیزونو سلامشورې کوي.

## اکثریت آلمانیان د غبرګ تابعیت پلوي نه کوي

مهاجرنیوز




**د آلمان برحال ائتلافي حکومت غواړي چې د دغه هیواد د تابعیت په قوانینو کې تغیرات راولي. پکښې د غبرګ تابعیت موضوع هم شخړیزه ده.**

**د آلمان برحال ائتلافي حکومت چې له سوسیال دموکرات، زرغون او لیبرال ګوندونو څخه جوړ دی، غواړي چې پخواني »مېلمه کارګرو« ته د آلمان تابعیت ترلاسه کول آسان کړي. د دې تر څنګ د تابعیت سره تړلو قوانینو نور تغیرات هم پلان شوي دي. یوې تازه تر سره شوې نظرپوښتنې ښودلې ده چې د آلمان اکثریت وګړي د «مېلمه کارګرو» لپاره د آلماني تابعیت په ترلاسه کولو کې د آسانتیاو پلوي کوي. خو اکثریت یې د غبرګ تابعیت سره همږغي نه دي.**

**د ائتلافي حکومت غړو درې واړو ګوندونو د حکومت جوړېدو مخکې د ائتلاف لپاره پر یو خپلمنځي قرارداد لاسلیک کړی و. د ائتلافي حکومت د جوړولو لپاره په دغه تړون کې د نورو موضوعاتو تر څنګ پر دې هم تفاهم شوی و چې حکومت به د تابعیت په قوانینو کې داسې تغیرات راولي چې د آلماني تابعیت ترلاسه کولو کې خنډونه کم شي. پر یاد تعدیل به د دسمبر میاشتې په سر کې د آلمان په پارلمان کې بحث پیل شي. په پلان کې ده چې د ۲۰۲۴ کال تر فبروری پورې اړونده نوی قانون قابل عمل شي.**

**د مهاجرت او کډوالی په تړاو آلماني څېړنیز مرکز (Dezim) د تابعیت د پلان شوي نوي قانون په تړاو یوه نظر پوښتنه کړېده. د دغه نوي پلان شوي قانون په تړاو نظر پوښتنه د مارچ له پای څخه د می میاشتې تر پیل پورې تر سره شوې. د یاد قانون د بعضو برخو په تړاو د آلمان په ولس کې ملاتړ په ښکاره توګه زیات تر پخوا زیات و.**

**په نظر پوښتنه کې یوه عمومي پوښتنه دا شوې وه چې «ایا تاسو دا وړاندیز مثبت په که منفي ارزوئ چې د ځانګړو شرایطو په پوره کېدو سره د آلمان تابعیت ترلاسه کول آسان شي؟» د دغې پوښتنې په جواب کې ۴۹ سلنې مثب او ۳۴ سلنې منفي نظر ښودلی و. نظر پوښتنه په آلمان کې له ژوند کوونکو آلمانیانو او بهرنیانو څخه د پوښتنو په ترڅ کې شوې. د مثبت او منفي په منځ کې ارزونه ۱۷ سلنې پوښتل شوو کړې. د دغې نظر پوښتنې په ترڅ کې په ټولیزه توګه ۳۰۰۰ کسان پوښتل شوي.**

د آلمان د کابینې د پلان له مخې به په آلمان کې ژوند کوونکي بهرنیان د دمګړی اتو کالو پر ځای د پنځو کالو وروسته تابعیت ترلاسه کړلای شي. په ښوونځي، تحصیل یا په ټولنیز ژوند کې د خاصو لاسته راوړنو، د آلماني ژبې ښه زدکړه او رضاکارانه ټولنیز فعالیت له کبله آن تر درو کالو وروسته لا هم تابعیت ورکول کېدلای شي.

د دې تر څنګ نوی قانون په پام کې لري چې هر هغه څوک چې غواړي د آلمان تابعیت ترلاسه کړي، هغه اړ نه دی چې خپل مخکنی تابعیت لغوه کړي. که څه چې دغه حق تر اوسه صرف د اروپايي اتحاديې د نورو غړو هیوادونو د اتباعو لپاره مخصوص و، خو اوس به هر څوک له دغه امکان څخه ګټه واخیستلای شي. هغه انسانان چې عمرونه یې ډېر دي، هغوی به د آلماني تابعیت ترلاسه کولو لپاره مجبور نه وي چې د آلماني ژبې امتحان ورکړي، بلکه په ساده توګه په آلماني مکالمه کولو وړتیا ورته کفایت کوي.

په نظر پوښتنه کې یوه دا پوښتنه هم شامله وه چې «د ټولو نوو تابعیت ترلاسه کوونکو لپاره د غبرګ تابعیت امکان مثبت په منفي ارزوئ؟» دغې پوښتنې ته له پوښتل شوو کسانو ۴۳ سلنې مثبت جواب ویلي او ۳۷ سلنې دغه وړاندې منفي بللی دی. له پوښتل شوو څخه هر پنځم کس په دې تړاو نه منفي او نه مثبت جواب ورکړی دی.

د یاد مرکز د معلوماتو له مخې په آلمان کې ژوند کوونکی هر دویم بهرنی غواړي چې د آلمان تابعیت ترلاسه کړي او یا یې تر مخه د تابعیت لپاره درخواست ورکړی دی.

## »پاکستان با بدرفتاری افغان‌ها را مجبور به بازگشت می‌کند«

دویچه وله



FAROOQ NAEEM/AFP/Getty Images :عکس

عکس از آرشیف: اخراج مهاجران افغان از پاکستان

سازمان دیده‌بان حقوق بشر مقامات پاکستان را متهم کرده که مهاجران افغان را برای اینکه وادار به بازگشت به افغانستان کنند مورد آزار و اذیت قرار می‌دهند.

در اعلامیه این سازمان حقوق بشر ی آمده است که «پولیس و دیگر ماموران برای اخراج مهاجران افغان بازداشت‌های گروهی انجام داده، اموال، دارایی‌ها و مواشی آن‌ها را مصادره و اسناد و مدارک آنها را از بین برده اند ».

مقامات در اسلام آباد در اوایل ماه اکتوبر اعلام کردند که مهاجران بدون مدرک را اخراج می کنند و ضرب‌الاجلی را برای خروج داوطلبانه آنها تا اول ماه نوامبر تعیین کردند.

بر بنیاد معلومات حکومت در ماه اکتوبر حدود ۴.۴ میلیون مهاجر افغان در این کشور زندگی می‌کردند که ۱.۷ میلیون آنها فاقد اسناد و مدارک بوده اند.

طبق معلومات دیده‌بان حقوق بشر از زمان این اعلام بیش از ۳۷۵ هزار مهاجر به افغانستان برگشته اند. بخش بزرگی از آنها زیر فشار و تهدید اخراج اجباری این کشور را ترک کرده اند و حدود ۲۰ هزار تن نیز اخراج شده اند.

دیده‌بان حقوق بشر در مورد برخورد مقامات پاکستان همچنان نوشته است که پولیس از افغان‌ها درخواست رشوت کرده، تلاشی‌های شبانه انجام داده یا هم خانه ها را با بولدوزر تخریب کرده است.

مرتبط :افغان‌های برگشته از پاکستان: زندگی را باید از صفر شروع کنیم

در میان افراد اخراج شده یا کسانی که تحت فشار مجبور به ترک این کشور شده اند، کسانی نیز هستند که در پاکستان متولد شده اند .

پاکستان تا کنون در مورد این گزارش دیده‌بان حقوق بشر ابراز نظری نکرده است.

پاکستان رسماً دلیل کمپاین اخراج مهاجران را که چند ماه پیش از انتخابات پارلمانی ماه فبروری انجام می‌شود، نگرانی‌های امنیتی عنوان کرده است.

## وزیر داخله ایران: امارت اسلامی شرایط بازگشت مهاجران افغان را فراهم کند

طلوع نیوز

در سوی دیگر، عبدالسلام حنفی معاون اداری رییس‌الوزرا از شهروندان کشور و نهادهای مددرسان خواسته است تا مهاجران برگشته به کشور را کمک کنندواوچا: از اواسط ماه سپتمبر تاکنون ۳۲۷ هزار افغان از پاکستان برگشته اند



**برخی رسانه‌های ایرانی از زبان احمد وحیدی، وزیر داخله ایران گزارش داده‌اند که در حال حاضر نزدیک به پنج میلیون مهاجر افغان در ایران به‌سر می‌برند.**

**بربنیاد گزارش برخی رسانه‌های ایرانی، احمد وحیدی از امارت اسلامی خواسته است تا شرایط را برای بازگشت مهاجران افغان فراهم کند .**

**آقای وحیدی هشدار داده است که تهران مهاجرانی را مدرک قانونی نداشته باشند، اخراج خواهد کرد .**

**احمد وحیدی گفته است: «آمار ما الان پنج میلیون نفر است. به لحاظ کار، کار این‌ها دنبال می‌شود. دو بخش است که قبلا کاملا توضیح داده شد؛ یک بخش آن‌ها بدون مجوز هستند و این‌ها باید برگردانده شوند«.**

**در سوی دیگر، عبدالسلام حنفی معاون اداری رییس‌الوزرا از شهروندان کشور و نهادهای مددرسان خواسته است تا مهاجران برگشته به کشور را کمک کنند .**

**به گفته‌ی آقای حفنی، تاکنون بیش از ۴۰۰ هزار مهاجر افغان از پاکستان به کشور برگشته است .**

**عبدالسلام حنفی گفته است: «مهاجرینی که متاسفانه براساس همه نورم‌های ملی و بین‌المللی از کشورهای همسایه ما به زور اخراج شده‌اند در وطن عودت کرده‌اند از طرف امارت اسلامی برای آن‌ها همه خدماتی که در توان ما بود ارایه شده است«.**

**شماری از فعالان عرصه حقوق مهاجران نیز از اوضاع مهاجران افغان در ایران نگرانی می‌کنند .**

**محمدخان طالبی محمدزی، فعال حقوق مهاجران به طلوع‌نیوز گفت: «وضعیت مهاجرین افغانستان در کشور جمهوری اسلامی ایران نسبت به نداشتن اقامه قانونی و در بعضی موارد با چالش‌های صنفی روبه‌رو هستند «.**

**از سوی‌هم سرپرست وزارت اقتصاد و مسوول کمیته جلب و جذب کمک‌های مهاجران با رییس اتحادیه اروپا دیدار و از کمک‌های بشردوستانه ۱۴۳ میلیون یورو به مهاجران افغان بازگشته به کشور اطمینان داده است.**

خبرنامه